**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۰/۰۶/۰۹

# د استاد حيدري وجودي مړينه

## څو نظرونه، يو شعر

«افتابِ که از کوهای سر به فلک کشیدۀ درۀ زیبای پنجشیر طلوع نموده بود، در کابل غروب کرد.
استاد حیدری وجودی،

این «شیخ» عصر ما که «از دیو و دد ملول» بود،

سالها به خاطر دریافت آرزوی خود «با چراغ گرد شهر گشت»

اما؛

به مقصود اش نرسید، گم شدۀ خود را نیافت،

نا گزیر چراغ زنده گی اش را خاموش کرد و ازین شهر رخت سفر بست.

یاد این انسان والا، شاعر و عارف کشورم، جاویدانه باد.»

(نعمان دوست)




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

شاعر، عارف او د مولانا او بېدل په باب د ځانګړو نظرياتو خاوند شخصيت غلام حيدر حيدري وجودي د يو اتيا کلونو په عمر، په کابل کې ومړ، ده ګڼ آثار، په ادبياتو او عرفان کې ځانګړې لار او د پاملرنې وړ شعرونه په مېراث کې پرېښودل.

ما آصف بهاند په کابل کې په ګڼو علمي غونډو او سيمينارونو کې ليدلی و، ورسره معرفي شوی وم او کله مې چې د شپېتمې لسيزې له پيل نه «د کوچنيانو ادبيات» کتاب باندې کار پيل کړ، د مجلو، اخبارونو، په تېره د کمکيانو انيس او کوچنيانو انيس د کلکسيونونو د ليدلو او مطالعې له پاره به عامه کتابتون ته ورتلم، ده به تل په ځانګړي لطف سره زما هرکلی کاوه او ټوله ممکنه مرسته او لارښوونه به يې راته کوله. ډېر ځلې به يې د چای څکلو او بنډار بلنه راکوله او له ما څخه به يې د پوهنتون د لوی کتابتون په باب پوښتنې کولې، د پوهنتون کتابتون ته د نويو راوړل شوو کتابونو پوښتنه به يې کوله، د پوهنتون د کتابتون د مامورينو، چې اکثراً ده پېژندل، پوښتنه کوله، په تېره خپل کليوال بناغلي مردمي په باب يې پوښتنې کولې. بنډارونو يې هر کله علمي بڼه درلوده او ډېر څه ورنه زده کېدل.خبرې يې تل پر مجلو، اخبارونو، کتابونو او قلمي نسخو باندې راڅرخېدلې.

اوس د استاد حيدري وجودي سترګې پټې شوې، دا چې اوس ځينې کسان څنګه د حيدري وجودي له شخصيت نه په استفادې سره، ځان ورسره نښلوي او په ټولنزه ميډيا کې رنګارنګ پيامونه خپروي دا د دوی کار دی.
خو ځينې داسې قلموال هم لرو چې پرته له کوم هدف نه د حيدري وجودي د ريښتيني شخصيت ځينې د ځينو اړخونه په نظر کې نيولو سره، داسې څه ليکلي دي چې په ريښتيا سره د قدر وړ دي او په د داسې جملو په ليکلو سره به د حيدري وجودي روح ارامه شي.

د پښتو ژبې پياوړي ليکوال نعمان دوست د استاد حيدري وجودي د مړينې په پار داسې هنرمندانه پيام ليکلی دی چې په ريښتيا سره د وجودي د فرهنګي شخصيت سره ښايي. د نعمان دوست د پيام متن دا دی:

**«افتابِ که از کوهای سر به فلک کشیدۀ درۀ زیبای پنجشیر طلوع نموده بود، در کابل غروب کرد. استاد حیدری وجودی،**

**این «شیخ» عصر ما که «از دیو و دد ملول» بود،**

**سالها به خاطر دریافت آرزوی خود «با چراغ گرد شهر گشت»**

**اما؛**

**به مقصود اش نرسید، گم شدۀ خود را نیافت،**

**نا گزیر چراغ زنده گی اش را خاموش کرد و ازین شهر رخت سفر بست.**

**یاد این انسان والا، شاعر و عارف کشورم، جاویدانه باد.»**

دغه راز نثار احمد صاله هم د استاد حيدري وجودي د مينې په مناسبت د يو پيام په ترڅ کې ويلي دي چې د حيدري وجودي ځينې اشعار څنګه زموږ د ټولنې په ويښتيا کې رول درلود او په ځينو شعرونو کې يې د وطن مينې ځپې وهلې. د استاد حيدري وجودي د مړينې په پار، د نثار احمد صالح د
لنډو خبرو متن دا دی:

«استاد وجودي وفات سو، د وجودي مرحوم اکثريت منتقدانه ابيات د افغاني ټولنې لپاره د ويښتيا په زړه پوري نصيحتونه ول. مرحوم حيدري د دری ژبې يو عرفاني شاعر وو، خو ځينو اشعارو يې د وطن انسان ته د وطن مينه په خورا ښه شکل پيچکاري کول...»

د استاد غلام حيدر حيدري وجودي پر شخيت، افکارو او اثارو باندې ډېر څه ويل کېدای شي. سره له دې چې کله، کله د شعر په ژبه د واکدارانو د توصيف په پاره د نقد تېره نظر هم ورته متوجه کېدای، خو داسې اشعار هم لري چې د وطن مينه له ورايه په کې ځلېږي.

د اوس له پاره د ده د يوې قصيدې څو بيتونه را واخلم چې د استاد غلام حيدر حيدري وجودي د وطن دوستی او هېواد پالنې ښه بېلګه کېدای شي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

ای کشور عزیز! بهاران تو چه شد؟!
گل های رنگ، رنگ گلستان تو چه شد؟

گرمی و سردی تو سروش امید بود
کیفیت بهار و زمستان تو چه شد؟

هندوکش ات که بیشهٔ مردان مرد بود
شیران رزم جوی نیستان تو چه شد؟

پامیر سال خورده و آن خیبر جوان
فرّ و شکوه کوه سلیمان تو چه شد؟

شیران قندهار، هریوا و سیستان
نام آوران بلخ و سمنگان تو چه شد؟

کاپیسه ای که گردن چنگیزیان شکست
فولاد بازوان قهستان تو چه شد؟

غافل ز صولت دژ در بند نیستم
پیران پنجشیر و هژبران تو چه شد؟

آموی سرکش تو که را رام گشته است
غوغای هیرمند خروشان تو چه شد؟

شیرازهٔ نظام تو از هم گسسته است
پیران پخته کار و جوانان تو چه شد؟

ای زابلی که مظهر حماسه ها بُدی
رزم و نبرد رستم داستان تو چه شد؟

کو خاندان سهل فریغونیان راد
انسان جوزجان و شبرغان تو چه شد؟

از سوری های غور نشانی نمانده است
سامانیان صاحب دوران تو چه شد؟

امروز آبگینه گرفته است جای او
وا حسرتا که لعل بدخشان تو چه شد؟

خون می چکد ز دیدهٔ پر ماجرای ما
ای کابل عزیز! عزیزان تو چه شد؟

دارلامان که مظهر حسن و جمال بود
آب و هوای تازهٔ پغمان تو چه شد؟

دامان کوه و جنگل انبوه پکتیا
قوم غیور منگل و ځدران تو چه شد؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پـر، پـر شده است غـنــچهٔ رنگین اتفاق
گـلـدسته هـای وحـدت انسان تو چه شد؟

تـاریک گـشـتـه است فـضـای حـیـات تو
در اوج زنـدگی مـه تـابـان تـو چــه شد؟

ای بــحــر سـرکـش دل بــی تــاب آسـیا!
امواج تند و شورش و توفان تو چه شد؟

ای کــوهسار شـامـخ و بـیدار و سربلند!
سیلاب های خشم تو، طغیان تو چه شد؟

گــردیـده است بــنــدهٔ فــرمـان این و آن
آزادی و شـرافـت انـسان تــو چــه شد؟

**د استاد غلام حیدر حیدري وجودي یاد دې تلپاتې**

**او روح دې یې ښاد وي!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ